

# د پښتونخوا د وزير اعلي
# امير حيدر خان هوتي پيغام

د خپلو سترو نيکونو باچا خان بابا او خان عبدالولي خان بابا د تلين په وخت د هغوي د دردناک ياد په موقع چې د دغو دواړو مشرانو د عمرونو عمرونو سترې ته فکر وکړو او بيا خپل ننني حالات د نظر لاندې راولو نو هر څو کۀ مو خپل زخمي زخمي احساسات د ډېر غم او درده ذرې ذرې او پوټې پوټې کړي خو بل طرف ته مو د خپلو دغو مشرانو د کلونو کلونو د صبر او زغم په بتۍ کښې پخې شوې سنګينې حوصلې او د هغې ژوندي روايتونه مو واپس راټول کړي، کوشش مو کړي او په هغه مقام مو ودروي چرته چې جذبې او احساسات په مسلسل جنګ او عمل کښې د خپلو اولسونو سره د يو پړاؤ نه بل ته روانېږي چې دغه زمونږ د اجتماعي ژوند د قسمت يوه داسې برخه ده چې مونږ ته په قدم قدم اواز راکوي چې:

ترمنزلــه پــورې شــرط د رســېدو دے
کــۀ تمامــه لار پــه وينــو شــي آلــوده

مونږ په اصل کښې د لوئے باچا خان بابا د امن او عدم تشدد د فلسفې او عمل د پړاؤ نه پاڅېدلي د منزل د حصول په طرف روان د هغې قافلې او کاروان غړي يو چرته چې سرے ځان په خپل اجتماعيت کښې داسې ورک ګڼي لکه د خپل ځان په ورکه پسې چې سرے په لويو دشتو سر وي او د لوئے بابا ولي خان د جمهوريت نوازۍ او په هر ميدان د هغۀ د غېرتي اواز سره سره روان د هغې اصولو د رښتيا او صداقت اوازونه يو چې کۀ هر څو د خپل وطن په دشتو او صحراګانو کښې ورکېږو هم، خو نۀ دغو دشتو او صحراګانو چرته خوړلي يو او نۀ يې ورک کړي يو. دغو صحراګانو اودشتو، غرونو او دامانو مونږ ته خپل اوازونه واپس راتمبولي دي او مونږ ئې د يو پړاؤ نه بل ته په تلو مجبور کړي يو.

مونږ چې په هر ميدان ولاړ يو زمونږ چې په هر پړاؤ قيام وي،مونږ ځانونه نۀ محسوس کوو بلکې د خپلو دغو مشرانو د تماشې په تماشو کښې د ځانه ورک د خپلې قافلې او کاروان د لېونتوب داسې برخې يو چې صرف او صرف د منزل تصور کولے شو، دا د هغو مشرانو د صداقتونو او فعاليتونو زور او برکت دے چې مونږ په دې لار کښې چرې هم د چتو په ښکارونو تکيا نۀ ده کړې بلکې لکه د باز مو په لويو لويو ښکارونو نظر دے. کومه لار چې زمونږ د قومي او اولسي نجات لاره ده، کومه لار چې د ترقۍ او شتۀ کېدو لار ده، کومه لار چې د راتلونکو نسلونو د روڼ سباوون او روښانه مستقبل لار ده. مونږ په اصل کښې د هغو لارو لاروي يو. باچا خان مونږ ته په خپله فلسفه د رښتياؤ د ازادۍ لار په ګوته کړې ده، ولي خان مونږ ته په ډېر رهنمايانه هنر د جمهوري اصولو او غېرت لار په ګوته کړې ده، دغه لارې دي چې زرګونه خدائي خدمتګارانو ورته خپلې ځوانۍ بخښلې دي. مونږ به هم په دغو لارو کښې خپل زلميتوبونه د ژوند د قافلو سره لکه د بلو ډيوو په لاسو کښې نيولي ولاړ يو. د دې اخوا کۀ بل کوم تصور زمونږ د روحونو نه چاپېره شو دا به مونږ دخپلو مشرانو د روحونو او خپلو قافلو د روحونو نه چرته په بله لار تلي يو. بايد چې زمونږ د کاروان ژوندي خلق دي مونږ ته اواز راکړي ځکه چې مونږ ځانونه او د خپل کاروان ملګري ورکول نۀ غواړو.مونږ به شايد د يو بل نه نۀ ورکېږو چې يواځې مونږ يو بل نۀ پېژنو. مونږ دغه لارې پېژنو او دغه لارې مونږ پېژني.